مطبوعاتي اعلاميه

تاريخ: د ۲۰۱۶ز کال د مارچ ۴مه

د کابل د ښوونځي لوبډلې د کرکټ د نړيوال جام د لمانځلو ټورنمنټ کټونکی شو

د کرکټ د نړيوال جام د لمانځلو په ټورنمنټ کې چې د جمعې په ورځ د مارچ په ۴ په لار واچول شو، شپږو لوبډلو ګډون وکړچې د برتانيې د سفارت لوبډله، د آسټريليا د سفارت لوبډله او د افغان ښوونځي لوبډلې له هغې جملې څخه دي.

نوموړی ټورنمنټ د برتانيې د سفارت له خوا د افغانستان لپاره د سويدن د کميټې او افغان کنکشن د موسسو په ملګرتيا په لاره واچول شو.

د دې ټورنمنټ موخه د برتانيې د سفارت لخوا د ټويل شوې پروژې (په ښوونځيو کې د کرکټ وده) د پای او په راتلونکي نړيوال جام کې د افغانستان د ملي لوبډلې د ګډون لمانځل دي. افغانستان به خپله لومړی لوبه له سکاټلند سره په ۸ د مارچ ولوبوي.

په کابل کې د ابراهيم خليل الله د لسې دوه لوبډلو، د برتانيې او د استريليا د سفارتونو لوبډلو، د پاکستاني لوبغاړو يوې لوبډلې او يوې بلې لوبډلې چې د افغانستان، سريلانکا او ويسټ انډيز پورې تړلي لوبغاړي پکې شامل وو، په نوموړو سيالیو کې ګډون وکړ. د ټورنمنټ واړه لوبې د سپورتي ارزښتونو او يو بل ته د درناوي په چوکاټ کې ترسره شوې.

For further information please contact:

Richard Slack
Mobile: + 93 0796666071
E-mail: Richard.Slack@fco.gsi.gov.uk

Emal Maqsood
Mobile: 0700379741
E-mail: emal.maqsood@fco.gov.uk

Below also find the links for our digital channels:
http://www.facebook.com/ukinafghanistan
www.gov.uk/government/world/afghanistan
@UKinAfghanistan

د کابل د ابراهیم خلیل الله لیسې غورځنګ لوبډله د پاکستاني لوبډلې په ماتولو سره پرته د کومې ویکټې له لاسته ورکولو سره اتلولۍ ته ورسېده. د کابل د ابراهیم خلیل الله لیسې شاهین لوبډله دریمه غوره لوبډله شوه. د محمد نبي او اصغر ستانکزي په ګډون د خپلو اتلانو د بریالیتوبونو نه اغېزمن شوي د ابراهیم خلیل الله د لېسې لوبډلو ډېره عالي لوبه وړاندې کړه. چې په کې د بریتانیې د سفارت پر وړاندې په یوه منډه د شاهین لوبډلې بریا هم شامله وه.

د برتانیې سفیر ښاغلي ډومینیک جرمي وویل:

((لکه څنګه چې نیلسن منډیلا ویلي وو: (سپورټ هغه ځای ته هیله راولي چېرته چې یو وخت یوازې ارمانونه وو.) سپورټ د خلکو او د ټولنو د یو ځای کولو او نړۍ راوستلو توان لري. زه خوښ یم چې د دغې پروژې له لارې موږ او زموږ همکاران توانېدلي چې د افغانستان تنکیو ځوانانو او ماشومانو ته خوښي وروبخښي او هیله من یم چې دوی ته به د راتلونکې په هکله لا زیات اعتماد ورکړي. دا له افغانستان سره زموږ د همکارۍ یوازې یوه برخه ده. خو په عین وخت کې دا د یوه سوله من، له ټیکاو ډک او آباد افغانستان په رامنځ ته کولو کې زموږ د ژمنو دوام دی.))

د افغانستان لپاره د سویډن د کمېټې رئیس ښاغلي جورګین هولمسټروم داسې وویل:

For further information please contact:

Richard Slack
Mobile: + 93 0796666071
E-mail: Richard.Slack@fco.gsi.gov.uk

Emal Maqsood
Mobile: 0700379741
E-mail: emal.maqsood@fco.gov.uk

Below also find the links for our digital channels:
http://www.facebook.com/ukinafghanistan
www.gov.uk/government/world/afghanistan
@UKinAfghanistan

دا د خوښۍ وخت دی چې ځوانان د سپورت له لارې په داسې یوه ورځ کې سره یو ځای کېږي. د سپورټ او په تېره بیا د کرکټ له لارې یو ځل بیا افغانان یو بل ته سره نږدې کېږي. د افغانستان لپاره د سوبډن کمېټه ویاړي چې د برتانیې سره په ملګرتیا افغانانو ته فرصت برابروي چې په لوبه کې برخه واخلي او د لوبو له خپل هېواد ورغوي.

د برتانیې له خوا تمویل شوې د (په ښوونځیو کې د کرکټ ودهٔ)پروژه د افغان کنکشن او د افغانستان لپاره د سوبډن د کمېټې له موسسو په هڅو سر ته ورسېده. د نوموړې پروژې په ترڅ کې په ۲۰ ښوونځیو چې په ۵ ښلابیلو ولایتونو (کابل، کندز، لغمان، ننګرهار او وردګ) کې موقعیت لري، د کرکټ میدانونه جوړ شول. د نوموړې پروژې له لارې ښوونځیو ته د کرکټ وسایل هم ورکړل شوِي او ښوونکو او ماشومانو ته د کرکټ د غوره زده کړې کمپونه هم په لاره واچول شول چې چارې یې د افغان ځوانانو لپاره د کرکټ د موسسې له خوا پرمخ بوول کېږي.

د دې پروژې له لارې د افغانستان لپاره د سوبډن د کمېټې له خوا په ۱۵ ښوونځیو کې د ښوونې ځایونو هم په وسایلو سمبال شوي تر څو د زده کړې لپاره غوره چاپېریال رامنځ ته کړي.

نوموړې پروژه په ۲۰ ښوونځیو کې دوامداره اسانتیاوې رامنځ کوي چې په زرګونو زده کوونکي به په راتلونکي کلونو کې تري ګټه پورته کړي.

For further information please contact:

Richard Slack
Mobile: + 93 0796666071
E-mail: Richard.Slack@fco.gsi.gov.uk

Emal Maqsood
Mobile: 0700379741
E-mail: emal.maqsood@fco.gov.uk

Below also find the links for our digital channels:
http://www.facebook.com/ukinafghanistan
www.gov.uk/government/world/afghanistan
@UKinAfghanistan

د ابراهیم خلیل الله د لسپي سرمعلم ښاغلي محمد نبی نورزی د نوموړي پروژې په هکله داسې وویل:

((موږ خوښ یو چې دلته لوبه کوو، کرکټ موږ ته د ښه وخت تېرولو او همکارۍ زده کړه راکوي. موږ له افغان کنکشن، د افغانستان لپاره د سویډن کمیټې او په کابل کې د بریتانیې له سفارت څخه مننه کوو چې موږ ته یې په ښوونځي کې د کرکټ میدان جوړ کړ چې زموږ زده کوونکي وکولای شي کرکټ وکړي.))

د افغان کنکشن رییسې او بنسټ ایښودونکې آغلې ډاکټر سارا فین وویل:

((د افغانستان لپاره د سویډن کمیټې، ام سی سی، د بریتانیې حکومت او د افغان ځوانانو د کرکټ موسسې په مرسته افغان کنکشن وکولای شول چې له ۲۰۰۹ کال راهیسې کرکټ د افغانستان ۲۲ ولایاتو ته ورسوي. چې لږتر لږه سل زره ماشومان ته یې د کرکټ د لوبې له لارې د هغوی ژوند ته یو نوی مهارت، خوښي او هیله راوړې چې له کلونو راهیسې په جګړو کې اوسېدل. له دغو ماشومانو څخه ځینې یې نن وکولای شوای چې د بریتانیې د سفارت د کرکټ په لوبو کې برخه واخلي او کېدای شي چې یوه ورځ په نړیوال سټیج هم کرکټ وکړي، لکه د دوی اتلان. د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې ګټې ټول ملت خوښ کړی. لکه یو محلي خبره چې وایي: ((راځئ چې ټوپک کېږدو او د کرکټ ډنډه را واخلو.))

سپورټ په جنګ ځپلو سیمو کې د ټولنو تر منځ د اړیکو د ټینګولو لپاره د ډېر وخت راهیسې یوه غوره لار ګڼل کېږي ځکه چې د سپورت له لارې سوله، زغم او دوه اړخیز توافق راتلای شي.

For further information please contact:

Richard Slack
Mobile: + 93 0796666071
E-mail: Richard.Slack@fco.gsi.gov.uk

Emal Maqsood
Mobile: 0700379741
E-mail: emal.maqsood@fco.gov.uk

Below also find the links for our digital channels:
http://www.facebook.com/ukinafghanistan
www.gov.uk/government/world/afghanistan
@UKinAfghanistan

د کرکټ د ارزښتونو په یادولوسره، په نظم او یو بل ته د درناوي په درلودلو سره، په سمه توګه د لوبې د ترسره کولو سره، په ګروپي کار سره او د اصولو په منلو سره هیله ده چې زده کوونکي په ښه توګه وکولای شي چې په خپل ژوند کې ارزښتونه جوړ کړي او هغه لارې چارې زده کړې چې له لارې یې د شخړو مخنیوی وکړي او د حل مناسبې لارې ورته پیدا کړي.

د کرکټ د لوبې پرمختګ په ابتدايي او ملي برخو کې پانګه اچونې ته اړتیا لري تر څو کرکټ په سمه توګه پرمختګ وکړي او پیل یې باید په ښوونځي کې د کرکټ نه وشي.

افغان کنکشن له ۲۰۰۸ کال راهیسې په افغانستان کې د کرکټ د پرمختګ په برخه کې کار کوي. د افغانستان لپاره د سوبډن د کمپنۍ او MCC سره په ګډه ملګرتیا د افغان کنکشن موسسې په ۲۲ ولایتونو کې په ۶۰ ښوونځیو کې ابتدايي کرکټ ته وده ورکړې.

For further information please contact:

Richard Slack
Mobile: + 93 0796666071
E-mail: Richard.Slack@fco.gsi.gov.uk

Emal Maqsood
Mobile: 0700379741
E-mail: emal.maqsood@fco.gov.uk

Below also find the links for our digital channels:
http://www.facebook.com/ukinafghanistan
www.gov.uk/government/world/afghanistan
@UKinAfghanistan